**ګرانو دوستانو زموږ نوې برنامې (له حديث شريف سره) ته ښه راغلاست!**




**السلام عليکم و رحمة الله و برکاته!**

**اې د آدم زويه! ځان دې عبادت ته وزګار کړه چې له خلکو دې بې نيازه کړم!**

له ابو هريره رضی الله تعالی عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل، چې الله سبحانه و تعالی فرمايلي دي:

**«يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ مَلأْتُ صَدْرَكَ شُغْلاً وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ»**

(رواه الترمذی و ابن ماجه)

**ژباړه:** *اې د آدم زويه! ځان دې زما عبادت ته وزګار کړه، چې زړه دې له شتمنۍ ډک کړم او د بې وزلۍ لار درته وتړم، که د داسې ونه کړل؛ نو زړه دې له مشغوليتونو ډکوم او بې وزلي دې نه لرې کوم.*

**د ترمذي په شرحه (تحفة الاحوذي) که د دې حديث په اړه داسې راغلي:**

اې د ادم زويه! ځان دې تر ټولو مهمو کارونو هم زما عبادت ته فارغ کړه، چې زړه دې له غنا ډک کړم او د خلکو له اړتياوو دې خلاص کړم او که دا کار دې ونه کړ، نو بې وزلي به دې زياته کړم.

**ښاغلو لوستونکو!**

د حيرانتيا خبره ده چې خلک د الله سبحانه و تعالی عبادت ته وخت نه ورکوي او خپل ټول ژوند يې دنيا ته وقف کړی دی. د عبادت معنا يوازې د اسلام پنځه ارکان نه دي، ځکه الله سبحانه و تعالی وايي:

**{قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ }** [الأنعام : 162]

**ژباړه:** ووايه چې لمونځ، قرباني، ژوند او مرګ مې د عالميانو د رب لپاره دی.

ايا نه پوهېږو چې شتمني او بې وزلي د الله سبحانه و تعالی لخوا تقدير شوې او ټاکل شوې ده! که پوهېږو؛ نو ولې مو خپل ټول وخت هغه څه ته ورکړی دی چې تضمين يې الله سبحانه و تعالی کړی دی؟ په داسې حال کې چې الله موږ ته امر کړی دی چې د هغه عبادت وکړو، چې په سر کې يې د الله د دين قايمول (د خلافت تاسيس) دي.

و السلام عليکم و رحمة الله و برکاته